مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د سپټمبر شپږمه | ۵۹۰یمه ګڼه

# د سولې په اړه د حکومت پاشلی دریځ؛

## سیاسیون: د سولې په اړه د حکومت د دریځ اوسنی وضعیت د طالبانو په ګټه دی



۳

د سولې خبرې، لومړني او کوچني، خو مثبت ګامونه ۲ مخ

له شماله تر کابله د هند ـ افغان ملېشو سوله ضد جریان او موخې! ۲ مخ

چیني او افغان ملتونه؛ له خپلې خاورې څخه د دفاع اتلان ۳ مخ

## د استادانو سراسري اتحادیه: ولسمشر دې په سیاسي تعاملاتو ښوونیزې ادارې نه زیانموي

د استادانو سراسري اتحادیې د یوې اعلامیې په خپرولو سره له ولسمشرغني غوښتي چې په سیاسي تعاملاتو کې ښوونیزې او تحصیلي ادارې زیانمنې نه کړي.
په اعلامیه کې راغلي چې ولسمشر باید لوړو زده کړو وزارت ته متخصص، صادق، لایق، وطن دوست او داسې کس معرفي کړي چې سترو ملي موخو ته رسېدل یې لومړیتوب وي. اعلامیه زیاتوي، دوی د قوم، سمت، مذهب او ژبې پر بنسټ کابینې ته د کوم کس معرفي کېدو سره مخالفت نه لري، خو په خبره یې، لوړو زده کړو وزارت ته داسې څوک غواړي چې لږ تر لږه د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې، په اکاډمیکه برخه کې ۱۵ کاله بریالۍ کاري تجربه ولري، له فساد، تعصب او اختلاس څخه پاک وي، د افغانستان د ملي ګټو، ملي ارزښتونو، دین، تاریخ او فرهنګ په اړه پوره معلومات او ملي ژبو ژبو خبرې وکولی شي. د اعلامیې په وروستۍ برخه کې راغلي، د استادانو سراسري اتحادیه له ولسمشر غني او د هغه له سیاسي شریکانو غواړي چې د دوی غږ ته لبیک ووایي ترڅو دوی نورو مدني حرکتونو ته مجبور نه شي. د یادونې ده چې د ولسمشر غني او عبدالله ترمنځ د ګډ حکومت جوړولو هوکړې له مخې، عباس بصیر د لوړو زده کړو وزارت لپاره نوماند وزیر ټاکل شوی دی.

## د مصالحې عالي شورا: بندیان خوشي شوي او د مذاکراتو د ځنډېدو لپاره هیڅ بهانه نه ده پاتې



۲ مخ

پوهنتون
۴ مخ

## راه سعادت خصوصي پوهنتون

پر کور د ننه سربېره، په ایران او ترکیه کې له ځینو پوهنتونونو سره علمي هوکړې هغه څه دي چې یاده موسسه یې د خپلو محصلینو او استادانو د وړتیا لوړولو لپاره لري.




## کرنې وزارت: روان کال په پکتیا کې د منو حاصلات ۸۰ زره متریک ټنو ته رسېدلي



د کرنې او مالدارۍ وزارت وايي چې روان کال د پکتیا د منو حاصلات ۸۰ زره متریک ټنو ته رسېدلي او د تېر کال د منو د حاصلاتو په پرتله دوه برابره ډېروالی پکې راغلی دی.
د یاد وزارت په خبرپاڼې کې راغلي چې بڼوالو ته د اصلاح شویو نیالګیو وېشنه او د یادې مېوې د موثرې کرکېلې په اړه عام پوهاوی په دغه ولایت کې د منو د ډېربښت لوی علتونه دي.
که څه هم د افغانستان د مېوو لپاره بهرنیو بازارونو ته د لاسرسي محدودیت تل د بڼوالو ستونزې بلل شوي، خو د کرنې وزارت وايي چې د دې ستونزې لپاره یې یو لړ اقدامونه پیل کړي.
د یادونې ده چې پکتیا د منو د تولید په برخې کې لومړی ولایت دی چې مارلینګ، بیروتی، جاپانی او ناکي یې د منو نامتو ډولونه دي. د کرنې وزارت د معلوماتو پر بنسټ، دغه ولایت پر دری زره هکتاره ځمکې د بېلابېلو مېوو بڼونه شته چې نږدې ۱۹ زره بڼونه یې د منو دي.

## داشته‌های ۱۵۰سال کار روزنامه‌نگاری در کشور به نمایش گذاشته شدند



برای نخستین‌بار داشته‌های ۱۵۰سال کار روزنامه‌نگاری در افغانستان، امروزشنبه در کابل به نمایش گذاشته شدند.
این نمایشگاه به‌مناسبت صدمین سال‌گرد روزنامهٔ «اتفاق اسلام» برگزار شده بود و در گردآوری داشته‌های آن، مرکز فرهنگ سرای دوربین که در هرات فعالیت دارد، نقش اساسی داشته‌است. در این نمایشگاه، در حدود دوهزار نمونه از کارهای خُرد و بزرگی که در ۱۵۰سال گذشته در بخش روزنامه‌نگاری در افغانستان انجام شده‌اند، به دید عموم گذشته شده بودند.
در برنامهٔ گشایش این نمایشگاه، وزارت اطلاعات و فرهنگ، کتابی را زیر نام «ما و نوگرایی» که به آن بازخوانی کارنامه شاه امان الله می‌گوید، نیز رونمایی کرد. محمد طاهر زهیر، نامزدوزیر وزارت اطلاعات و فرهنگ در این باره گفت: «صد سال افت و خیز، صد سال افول و عروج و صد سال ایستاده‌گی برای آگاهی فوق‌العاده مهم است.»
بخش بزرگ کار گردآوری داشته‌های این نمایشگاه را مرکز فرهنگ‌سرای دوربین در هرات، به دوش داشته‌است. مرکزی که مسؤولانش می‌گویند در حدود سه‌صدهزار نشریه و سند قدیمی را نگهداری می‌کند.
در پایان این نمایشگاه به شماری از رسانه هایی چاپی هم به پاس خدمات شایسته آن در عرصه مطبوعات تندیس های سپاسگزاری اعطا شد. روزنامه مسیر هم از جمله برندگان این تندیس ها بود.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دربیمه ناحیه، دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

# د سولې خبرې، لومړني او کوچني، خو مثبت گامونه

د سولې د بین الافغاني خبرو پر وړاندې ټول لوی خنډونه لرې شوې او تمه ده چې دا خبرې په راتلونکو څو ورځو کې په دوحه کې پیل شي. د افغان دولت تخنیکي ټیم په دوحه کې دی او د طالبانو د مذاکراتي ټیم پاتې غړي هم دوحې ته رسېدلي دي. د خبرو د پیل په مراسمو کې به د ډاکټر عبدالله په گډون ځیني سیاستوال، د امریکا ځانگړی استازی زلمي خلیلزاد او ځیني نور بهرني دیپلوماتان هم برخه واخلي.

که څه هم اوس هیله ډېره ده، خو تر هغو چې د سولې خبرې پیل شوې نه وي، لا هم د دې شونتیا شته چې و دې ځنډېږي او ښکېل اړخونه دې د تمې خلاف دریځ ونیسي. له همدې امله لا هم سل سلنه یقیني نه ده چې خبرې حتمي په څو ورځو کې پیلیږي، خو دا ځل د پخوا خلاف مهم او اساسي پرمختگ شوی او هېڅ لویه ستونزه نه ښکاري چې خبرې دې وځنډوي. دواړه اړخونه هم د خبرو پیل ته د تیاری خبرې کوي او د خبرو پیل ته هیله من دي.

خبرې به پیلیږي، خو دا مهمه ده چې دا لومړنۍ خبرې به څه ډول وي، ځکه چې ځرنگوالی یې مخامخ پر راتلونکو خبرو او د سولې د پروسې پر برخلیک اغېز پرې باسي. دواړه لوري په دې نیت خبرو ته داخلیږي، چې پر بل اړخ خپل نظر او غوښتنې ومني او یا په بله وینا، مقابل لوری مات کړي. دا ذهنیت ستونزه لري، بلکې پکار ده چې دواړه اړخونه په دې نیت خبرو ته ننوځي چې د افغانستان ستونزه حل کړي او سولې ته ورسیږي. دا سمه ده چې د لورو غوښتنې یو مخ هېرېدلی نه شي، خو پکار ده چې اصلي تمرکز پر سوله وي او غوښتنې د همدې سولې پر محور را وڅرخیږي. دویمه او مهمه خبره دا ده چې پیل باید له سختو او اختلافي مسایلو و نه شي. طبعي ده چې سخت او اختلافي مسایل شته او هغه باید حل شي، خو که پیل له سختو مسایلو وشي، نو ستونزې به زیاتې شي. له همدې امله پکار ده چې پیل له اسانه او هغو مسایلو وشي چې دواړه لوري پرې نږدې دریځ لري او په اسانۍ پرې توافق کېدلی شي. په لومړنیو خبرو کې بریا، که څه هم وړه وي، په راتلونکو خبرو ډېر مثبت اغېز کوي او همداسې په لومړنیو خبرو کې ناکامي، په راتلونکو خبرو ډېر منفي اغېز کوي. له همدې امله هر هغه گام باید واخیستل شي چې د بریا چانس زیاتوي او ناکامي ځنگ ته کوي.

اوس چې د خبرو پیل ته نږدې شوي یو، دواړه اړخونه هم باید یو د بل پر وړاندې د توندې ژبې کارونه، تورونه او آن بریدونه تر ممکنه حده راکم کړي. د حسن نیت او سوله ییزې فضا جوړولو لپاره له دواړو اړخونو د مثبتو کارونو تمه کېږي. ولس هم باید له دې پروسه سره د مرستې لپاره له یوه اړخه پر دواړو اړخونو فشار دوامداره وساتي او له بله اړخه دا پروسه له نږدې وڅاري او پرې نه ږدي چې د سولې مخالفین یې تخریب کړي.

# له شماله تر کابله د هند ـ افغان ملېشو سوله ضد جریان او موخې!

لیکوال: قاضي نجیب الله جامع

د افغان ـ امریکا جگړې په ترخ کې وروسته له هغه چې امریکایي ستراتیژیستانو ومنله چې تیر ۲۰ کلن یرغل یې له ماتې سره مخ دی، د ناټو او او امریکا هغه نړیوال دریځ او داعیې اوس رنگ بایللی چې دوی یې په دفاع کې نیمه نړۍ په افغان وطن یرغل او نیواک کې له ځان سره ملگرې کړې وه.

په همدې موخه او درک امریکا او ستراتیژیکو متحدینو یې د خپل نړیوال برم، حیثیت او دریځ ساتلو په موخه له طالبانو سره داسې اوږده او پیچلې مذاکرات وکړل چې پایله یې د دوحې د سولې هوکړه وه، چې امریکا ته یې بغیر له سرټیټۍ او د ماتې یا تسلیمۍ سند څخه بل څه په لاس ورنه کړل. طالبانو له افغان دریځه د تاریخ دا طلسم مات کړل چې افغانان یوازې جگړې گټلی شي، د ټوپک خلک دي او کله چې خبره د سیاست او خبرو میز ته لاړه شي، نو دوی ماتې خوري، پاشل کېږي او د یوه ستر ولسي انقلاب او ملي مقاومت ټول ارمانونه یې خاورې شي.

د دوحې د خبرو په جریان او را وروسته کې له افغان دریځه او د افغانانو په نوم د سولې د تخریب، سبوتاژ او ماتولو داسې هڅې وشوې، چې په ښکاره د سولې د ناکامۍ، د ښکېلاک او جگړې د دوام مانا یې لرله، هغه چې د دغو تخریبونو تازه هغه یې چې غوټه یې خلاصه شوه، د ۵۰۰۰ طالب اسیرانو د آزادولو موضوع وه، کوم چې میاشتې یې ونیوې، شرایط پرې کېښودل شو، خبره یې د جگړې تر اعلانه ورسوله، جرگه یې ورته راوغوښتله او اخر یې هم تر پرونه د استرالیا او فرانسې د سفیرانو په خوله ځنډولې وه.

اوس چې د ولس غوښتنه، لومړیتوب او حتی د سیمې او نړۍ اجماع ظاهراً په افغانستان کې په آمن او سوله کې ده، امریکا د موجوده کابل واگې حکومت د ستراتیژیک ملاتړي په توگه د جگړې دوام د امریکا د پاشل کېدو په مانا گڼي، نو په داسې یوه وضعیت کې هره پردۍ، د پردیو په نغوتو، د پردیو په طرحو او غرضونو ولاړو موخو سره کار او یا ورته کار د افغانستان د تخریب او ماتولو په مانا دی.

کوم چې په دغه سوله ضد او بلواکو هڅو کې چې څو ورځې وړاندې د اسلامي حزب امیر ښاغلي حکمتیار صاحب هم ورڅخه یادونه کړې وه، هغه په شمال کې د سیمه ییزو جگړه مارو په ملتیا د هند له لوري د ملېشو جوړولو تازه بهیر دی.

د ایران شاتگ او د هند علاقه او گټې په ملېشه جوړونه کې

د امریکا ـ طالبانو د هوکړې په جریان او را وروسته کې افغان حکومت له دې هوکړې څخه سخت اندېښمن او ناخوښه وو.

ولې د دې ټولو سربېره، ډاکتر غني د هغو مالوماتو او پوهې چې له امریکایي ټولنې، فرهنگ او سیاست څخه یې لرل، په دې نظر و چې د ځینو معاملو او مانورونو له لارې به د ټرمپ په مشرۍ امریکایي اداره په دې قانع کړي، چې دوی ومني او سوکه سوکه به د وخت په تر لاسه کولو سره دا هوکړه د نوموړي د خپل ذهنیت پر اساس وضعیت دې ځای ته ورسوي، چې د طالبانو او امریکا تر منځ هوکړه به ماته شي.

په همدې موخه یې امریکا کې په پیسو لابي شروع کړله، امرالله صالح یې د طالبانو د تخریب په موخه ډېرو نړیوالو ناستو ته هغه مهال چې لا مرستیال نه و، د پریزنټیشن لپاره له ځان سره بېوه، امریکا ته د تگ هڅه یې وکړه، د امریکا د اروپایي متحدینو د راخپلولو هڅه یې وکړه او حتی د امریکا کانگریس ته یې د امریکایي یرغل د دوام په بدل کې د پوځي لگښتونو د کمولو طرحه وړاندې کړله.

ولي دې او دې ته ورته زیاتو هڅو او مانورونو کومه ځانگړې پایله ورنه کړله، نو په دویم گام کې ډاکتر غني او نږدې ملاتړو یې په هغو طالب ضد هېوادونو کار وکړ چې فکر کوي چې طالبان د یوه سني ـ مذهبي خوځښت په توگه لکه ایران د دوی سره ممکن جوړ رانشي او دا کار به د ایران منطقوي پرستیژ ته یو بالقوه گواښ شي، ځکه طالبان د یوې هوکړې له مخې واک ته راگرځي، نو یوې خوا ته دا ډله مذهبي جوړښت لري او بل لور ته دا ځل به د امریکا ملاتړ هم ولري، نو دې خبرو د ایران جدي اندېښنې راپارولې وي.

بلخوا هند چې طالبان د پاکستان تر نفوذ لاندې ډله بولي او عملاً په دې باور دي چې واک ته د طالبانو بیا راگرځېدل به په سیمه کې د هند د گټو جنازې واخلي او شرۍ راټوله کړي او د پاکستان د سیمه ییزې هژموني د قوت په مانا وي.

په دې جریان کې ایران د قطر په لابي او د طالبانو د دوحې دفتر په پرله پسې هڅو په دې قانع شوي چې د طالبانو موخې او گټې د ایران او سیمې د ثبات په خیر دي، افغانستان به له مذهبي ټکر څخه لرې وي او له سولې وروسته افغان حکومت به په کورني او بهرني سیاست کې کله هم د پردیو اجنډاگانو سره مل نشي او حتی د طالب په راتگ سره به سیمه د پردیو ټولو شریرانو له کرغېړنو موخو په امن کې شي.

ولې په شمالي افغانستان کې د هند په آدرس وروستۍ هڅې او تخریبونه بیا دا رنگ نه لري.

لـه شماله تر کابله د هند ـ افغان ملېشو د جریان کیسه

د ډاکتر غني او عبدالله تر منځ د گډ حکومت جوړولو مخکې د ملي امنیت شورا دفتر په دې وتوانېد، چې قیصاري او دوستم سره پخلا او دوستم ته د مارشالۍ رتبې له ورکړې څخه مخکې نوموړی پر دې قانع کړي، چې د طالب او سولې په خلاف پروژه کې یې متحد شي، دوستم دا طرحه ومنله او د مارشالۍ د اعلان په غونډه کې یې له ارگه د طالب خلاف جگړې او ملېشه جوړولو غوښتنه وکړه.

له دې څخه وړاندې ارگ په خپل محور د سولې د تخریب او د جگړې د دوام منظم ټیم د دې طرحې د پرمخ بېولو لپاره د امنیت شورا د سلاکار او د ولسمشر غني د لومړي مرستیال امرالله صالح د گډې همکارۍ په موخه رامنځ ته کړي وو.

صالح د شمالي په نوم شورا ته د دې کار لپاره طرحه او د نظار شورا د تنظیمي جگړو د جگړه مارانو د راټولولو او منظم کولو په موخه پریمانه پیسې ورکړې. په کابل، پروان، پنجشیر، جوزجان، بلخ، فاریاب او سمنگان کې ورته د همغږۍ دفترونه جوړ شول او تازه اونۍ وړاندې کابل میشتي شمالي شورا ته د ملي امنیت شورا ۳ کاري دفترونه په وزیر اکبر خان، ششدرک او تایمنۍ کې ورسپارل شوي دي.

د دې پروژې د لویې همغږۍ اصلي مسوولیت ارگ د امرالله صالح په غوښتنه د شمال شورا ته ورکړی او دوستم او قیصاري د انساني ځواک د راټولولو د سهم په کچه په ۵ شمالي ولایتونو کې د دې پروژې مهم ملاتړي دي.

تازه قیصاري کابل ته د دفاع وزارت په ځانگړو الوتکو کې د همدې پروژې د لا همغږیو په موخه راغلی، هغه چې لومړۍ کتنه یې هم د شمالي شورا له مشر حاجي الماس زاهد او بیا وروسته له حکمتیار صاحب څخه تللي جمع خان همدرد سره وه.

ویل کېږي چې د حکمتیار او همدرد د مخالفت یو دلیل د سولې د تخریب په پروژو کې له ارگ سره د حکمتیار نه ملتیا وه.

قیصاري نږدې دوه اونۍ کېږي چې د حکومت لخوا په کانټیننټل او سرینا هوټل کې میلمه دی، له سیاستوالو سره لیدنې کوي، له ځوانانو سره انځورونه اخلي او د تنظیمي جگړو له مخکښو قومندانو سره په لیدنو کتنو بوخت دی.

له دې سربېره، ډاکتر غني اونۍ وړاندې د امرالله صالح په کور کې د شمال یا شمالي شورا له نږدې ۱۰۰ غړو سره په کتنه کې مخامخ په دې هڅو خبرې کړې او د هند ـ افغان ملېشو په جوړولو یې بحثونه کړي دي.

د مالوماتو له مخې، تر اوسه په پروان، جوزجان او بلخ کې په دې موخه سلگونه پخواني جگړه ماران همغږي شوي او دا بهیر په جدیت سره د یادو شویو خواو او افرادو له لوري روان دی.

څه کول پکار دي؟

د قیصاري له لوري د دې پردۍ او سولې ضد پروژې څخه غیر مستقیم ملاتړ او د امرالله صالح طالب او سوله ضد دریځونه د دې ښوودنه کوي، چې حکومت او په ځانگړې توگه ارگ لا اوس هم په سوله کې خپل پایښت نه گوري، د ولس غوښتنه لومړیتوب او د نړۍ اجماع ورته مانا نه لري.

ځکه دوی په ولس تکیه نه لري، ولس د ځان نه بولي، په سوله کې د ولس خیر او له افغانستان ژغورنې څخه ورته خپلې گټې مهمې دي.

په داسې یوه وضعیت کې ولس او ملت محوره مدعي مشران باید وطن ته د ژمنتیا ازموینه ورکړي، خپلې لارې د زوال د ورځو له غمیو بېلې کړي، د افغانستان او سولې دښمنان لکه د ښاغلي حکمتیار په څېر رسوا کړي، مخه یې ونیسي او د خپل ملت فرض او د تاریخ دا قرض پرې کړي چې نور به افغانستان نه بېلیږي، د پردیو دسیسو مخه به نیسي او دا خاوره، ملت او تاریخ به له کورنیو او بهرنیو ناوړه نیتونو لرونکو بدخواهانو او شریرانو ساتي.

ولس او ولسي خوځښتونه دې په دې حساس او نازک وخت کې د جگړې د دوام په پلویانو، د هند غونډې د ملېشه جوړونې او اربکي جوړونې په افغان ضدو او سوله ضدو هېوادونو د خپل غږ او فشار له لارې د سولې ضد هڅې ونڅوي او ماتې یې دې کړي.

ځکه که خدای مه کړه موږ یوځل بیا خپل تاریخ ته په لوري ورکولو، د خپل تاریخ او برخلیک په ټاکلو کې کمزوري راشو، غفلت وکړو او زړوره هڅه ونه کړو، نو د هر څه په اوبو لاهو کېدو او د تاریخ د بیا بد تکرار ملامت به یو.

## د مصالحې عالي شورا: بندیان خوشي شوي او د مذاکراتو د ځنډېدو لپاره هېڅ بهانه نه ده پاتې

د ملي مصالحې عالي شورا وایي، د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی له طالبانو سره د خبرو پیلولو لپاره چمتو دی.

د دې شورا ویاند فریدون خوځون ویلي چې د بندیانو د خوشې کېدو مسئله هواره شوې او د بین الافغاني خبرو د پیلېدو پر وړاندې هېڅ خنډ نشته.

هغه زیاته کړې: «د افغانستان اسلامي جمهوریت مذاکره کوونکی پلاوی کاملاً مذاکراتو ته چمتو دی، د بندیانو مسئله حل شوې، هېڅ ډول بهانه او خنډ د مذاکراتو ځنډېدو لپاره نشته، طالبان تر اوسه نه دي حاضر شوي چې بین الافغاني مذاکرات شروع شي، هیله دا ده چې طالبان تر هر څه ژر د شوي توافق له مخې مذاکراتو ته حاضر شي چې مذاکرات شروع شي.»



د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د بندیانو د تبادلې د بهیر تر بشپړېدو وروسته ټاکل شوې وه چې د افغان حکومت مذاکراتي پلاوي د تېرې پنجشنبې په ورځ قطر ته سفر کړی وای، خو د ځینو نا ځرگندو دلایلو له مخې ویل کېږي چې دغه سفر ځنډېدلی دی.

په ورته وخت کې ملي امنیت شورا د تېرې پنجشنبې په ورځ د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د بندیانو د تبادلې بهیر د بشپړېدو خبر ورکړ، خو طالبانو لا تر دې مهاله په دې اړه څه نه دي ویلي.

د پاتې ۴۰۰ طالب بندیانو د پرېښودو مسئله د مخامخ خبرو پیلېدو په وړاندې له لویو خنډونو څخه وه، طالبانو تر دې مخکې ویلي و چې د خپلو پاتې بندیانو تر ازادېدو وروسته د یوې اونۍ دننه کې خبرو ته چمتو دي.

ولسمشر غني هم د تېرې چهارشنبې په ورځ له طالبانو سره د حکومت له مذاکرتي پلاوي سره لیدنه کې وویل چې تمه ده په دغو مذاکراتو کې د خلکو د غوښتنې سره د تاوتریخوالي پر کمېدو او اوربند ټینگېدو باندې موافقه وشي.

لا معلومه نه ده چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې به کله پیل شي.



# چینې او افغان ملتونه؛

## له خپلې خاورې څخه د دفاع اتلان

لیکنه: هیله
د چین نړیوالې راډیو خبریاله

چین او افغانستان د تاریخ په اوږدو کې ډېر ځله له بهرنیو تېریو سره مخ شوي، دواړو ملتونو د تېریګرو پر وړاندې د سر په بیه مبارزه او سرښندنې کړې او د هر تیریګر پر وړاندې یې بریا هم موندلې، نو ځکه ویلای شوو چې دواړه ملتونه له خپلې خاورې څخه د دفاع اتلان دي.

سږ کال د جاپان د تیري پر ضد د چین د مبارزې او د فاشیزم ضد د نړیوالې جګړې د بریالیتوب له ۷۵مې کالیزې سره برابر دی. ۷۵ کاله مخکې د چین خلکو د جاپان د تېري ضد جګړه کې ستر بریالیتوب تر لاسه کړ، چې دغه بریا د فاشیزم ضد نړیوالې جګړې په بریالیتوب کې کلیدي رول لري. د جاپان د تېري پر ضد د چینایانو مقاومت جګړه او د فاشیزم ضد نړیواله جګړه د عدالت او شیطانت، جعل او سباوون تر منځ لویې جګړې وې.

دا په عصري زمانه کې د بهرنیو تېري کوونکو ضد جګړه کې د چین لخوا تر لاسه شوی لومړی ستر او بشپړ بریالیتوب ګڼل کېږي. چین د دغه بریالیتوب په تر لاسه کولو سره په نړۍ کې د لوی هېواد په توګه خپل مقام بیاخپل کړی او په نړۍ کې له سولې سره د مینه‌والو احترام یې هم تر لاسه کړی.

د برېتانیا د اکسفورډ پوهنتون د چین په اړه د څېړنې مرکز مشر رنا میټر څو ورځې مخکې د چین میډیا ګروپ له خبریال سره په مرکه کې وویل، د چین یادې مبارزې د فاشیزم ضد جګړې د بریالیتوب لپاره کلیدي رول لوبولی دی. د هغه تاریخ په اړه زموږ د څېړنې او یادونې موخه له جګړې څخه تجربې راغونډول او سولې ته لومړیتوب ورکول دي.

پروفیسور رنا میټر د جاپان د تیري پر ضد د چین د جګړې په اړه د (چین د دویمې نړیوالې جګړې په بریالیتوب کې هېر شوی ملګری دی) په نوم کتاب کې په سر کې لیکلي چې ختیځ له لوېدیځ سره یو ځای د تاریخ تر ټولو شیطان پوځ ته ماتې ورکړې. هغه وویل، ډېر لوېدیځوال د دغه کتاب په لوستلو سره حیران شوي، چې ولې دوی د چین د دغه تاریخ په هکله مالومات او پېژندنه نه لري. په دغه جګړه کې د چین لسګونو میلیونو کسانو د جاپان د پوځ پر وړاندې سختې مقابلې کړې او په پای کې یې بریالیتوب تر لاسه کړی دی، خو لوېدیځوال له دې هېڅ خبر نه دي او هېڅ اشنایي ورسره نه لري.

د چین د کمونېست ګوند د مرکزي کمېټې عمومي منشي شي جین پینګ ویلي، له هېواد سره مینه د چیني ملت د روحیې کلیدي ټکی دی. له عصري وخت راهیسې، چینایانو د خپلواکۍ او ازادۍ تر لاسه کولو لپاره یو لړ مقابلې کړې، دا د چین ملت د پیاوړي کېدو بهیر هم دی. چینایانو په دې بهیر کې ډېره قرباني ورکړه او زیات قهرمانان هم رامنځ ته شول. هر هېواد د خپلې خپلواکۍ ساتلو لپاره قهرمانانو ته اړتیا لري.

اوس په نړۍ کې د پرمختګ او اصلاحاتو نوې دوره روانه ده. په روان کال کې کووید-۱۹ د نړۍ اقتصاد، سیاست، کلتور او ټولنې ته سخت زیانونه رسولي دي او د نړیوالې اداري سیستم یې له سختو ننګونو سره مخ کړی دی. تاریخ او واقعیت دا ښیي چې انسانان د مشکلاتو پر وړاندې ګډ برخلیک لري، تر هر څه لومړی سولې ته په اهمیت ورکولو سره دوامداره پرمختګ موندلی شي.

د افغاستان په تاریخ کې هم څو ځلې د بهرنیو تېري کوونکو ضد مبارزې تر سره شوې، افغانان د خپل هېواد حاکمیت او د خاورې بشپړتیا د ساتلو لپاره هم ستر کوښښونه کړي دي. لاهم په افغانستان کې رښتینې سوله نه ده رامنځ ته شوې او په کورنیو چارو کې یې د بهرنیو ځواکونو لاسوهنې روانې دي. چین تل د سولې ملاتړ کوونکی دی او د بین الافغاني خبرو اترو ملاتړ کوي. د چین او افغانستان د خلکو تر منځ سوچه دوستي دوام لري، چینایان په دې هیله دي چې افغان خلک به په خپلو کوښښونو سره په دې هېواد کې عملي او دایمي سوله پیدا کړي.

یوازې په سوله کې د چین او افغانستان په شمول به نړیوال دوامداره پرمختګ ومومي.

# د سولې په اړه د حکومت پاشلی دریځ؛

## سیاسیون: د سولې په اړه د حکومت د دریځ اوسنی وضعیت د طالبانو په ګټه دی



په افغانستان کې د ګڼو ناورینونو ترڅنګ د حکومتي چارواکو ترمنځ اختلافات یو بل ناورین ګڼل کېږي. سره له دې چې تازه په ټوله نړۍ کې د افغانستان د سولې مسئله تر ټولو تود خبر ګڼل کېږي، خو افغان چارواکي په دې برخه کې یو څه بې پروا دي او په سیاسي کشمکشونو بوخت دي.

د چارو شنونکي، سیاسي فعالین او سیاسي ګوندونه په دې باور دي چې د سولې په اړه د افغان سیاسیونو ترمنځ اوسنی پاشلی وضعیت او د ثابت دریځ نه موجودیت د طالبانو په ګټه دی او دوی به له دې ضعف د سولې په خبرو کې استفاده وکړي.

تمه ده چې بین الافغاني مذاکرات ډېر ژر پیل شي، خو په افغان حکومت کې د ننه اختلافاتو اندېښنې پارولې دي. تازه د ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله عبدالله ترمنځ چې د حکومت ستر شریکان دي، د ځینو مسایلو پر سر ستونزې او کشمکشونه جوړ شوي دي. تر ټولو لوی کشمکش د ملي مصالحې عالي شورا پر تشکیل را ولاړ شوی دی. بلخوا سیاسي ګوندونه او سیاسي فعالین دغه اختلافونه د هېواد په ګټه نه بولي. د دوی په خبره، دا هر څه کولی شي چې د طالبانو دریځ پیاوړی کړي او دوی به له دې کمزوریو د بین الافغاني مذاکراتو په لړ کې استفاده وکړي.

د سیاسیونو په خبره، د حکومتي مشرانو ترمنځ روان اختلاف له بدمرغۍ پرته بل څه نه شي راوړلی. د افغانستان د ملي همبستګۍ د نهضت مشر سید اسحاق ګیلاني وایي، د حکومتي مشرانو د اختلافونو زیان افغانانو ته اوړي. د ده په خبره: ((ددې اختلافونو دوام له بدمرغۍ پرته بل څه نه دی، دا زموږ ولس ته بدمرغي راولي، دا درد موږ زغمو، بدمرغي پر خلکو ده، دا بدمرغي نه ډاکټر عبدالله ته ده، نه ډاکټر غني ته)).

څو ورځې وړاندې ولسمشر غني یو فرمان صادر کړ چې له ځان سره یې یو اوږد لېست هم درلود او په دې لېست کې راغلي کسان یې د ملي مصالحې عالي شورا غړي بللي وو. د دې لېست تر خپرېدو وروسته ډاکټر عبدالله د ولسمشر ددغه کار مخالفت وکړ. دده په خبره ولسمشر حق نه لري چې د ملي مصالحې د تشکیل په اړه فرمان صادر کړي او خلک ورته انتخاب کړي. هغه زیاته کړې چې دا صلاحیت د ملي مصالحې عالي شورا مشر ډاکټر عبدالله عبدالله لري او په دې اړه یې له ګڼو بنسټونو سره بحثونه روان کړي دي. بلخوا ډاکټر عبدالله عبدالله هم تر دې دمه د ملي مصالحې عالي شورا د غړو نوملړ نه دی اعلان کړی. دا ستونزې او کشمکشونه په دې حساسو شرایطو کې د افغانستان په ګټه نه بلل کېږي او سیاسي ګوندونه وایي چې باید ډېر وختي د دې شورا غړي معرفي شوي وای. د محور سیاسي بهیر غړی تمیم نورستاني وایي: ((د دې شورا په اعلام کې ډېر ځنډ راغی. باید وختي یې غړي اعلان شوي وای، اوس باید د شورا غړو کار پیل کړی وای)).


سیاسي فعالین بیا دغه راز وایي چې د ملي مصالحې عالي شورا باید ټول‌شموله وي او که داسې و نه شي، نو ښایي د سولې لپاره ګټور ګام نه وي او د ګټې پر ځای به زیان ولري. د ده په خبره: ((که د ملي مصالحې غړي ټول‌شموله نه وي، دا نو طبعي خبره ده چې خپل منفي تاثیرات لري)).

د سولې کاروان مشر اقبال خیبر بیا د سولې په اړه د حکومت دریځ پاشلی بولي او په خبره یې که وضعیت همداسې وي، نو طالبان چې د سولې په اړه واحد دریځ لري، ښایي د مذاکراتو پر مېز ګټونکي شي. ده په خبره: ((که د افغانستان د حکومت موقف لکه څنګه چې اوس دی، همداسې پاتې شي، همداسې پاشلی وضعیت ولري، نو په مقابل کې یې د طالبانو نظر واحد دی، نظر یې واحد دی نو ښایي ګټونکي شي)).

سیاسیون داسې مهال د سولې په اړه د افغان حکومت پر پاشلي دریځ نیوکې کوي چې ټاکل شوې په نږدې راتلونکې کې بین الافغاني خبرې پیل شي او د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی به له طالبانو سره مخامخ بحثونه پیلوي.

# د ناټو او روسیې د کړکیچ په دوام؛

## سټولټنبرګ: ډېرې جدي پوښتنې شته چې روسیه یې باید په اړه ځواب ووایي



ناټو له روسیې غوښتي چې د اپوزیسیون د مشر الکسي ناوالني د مسمومېدو د قضیې په څېړنه کې همکاري وکړي.

د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ په بروکسل کې د دغه تړون د سفیرانو تر یوې ځانګړې غونډې وروسته زیاته کړې چې ځینې جدي پوښتنې شته چې روسیه یې باید ځواب ووایي.

دا په داسې حال کې ده، جرمني چې د ناوالني درملنه پکې روانه ده، تېره چهارشنبه ویلي وو چې په معاینو کې څرګنده شوې چې الکسي ناوالني د نوویچوک په نوم په زهرجنو موادو مسموم شو او دا مواد د پخواني شوروي اتحاد پر مهال جوړېدل.

د یادونې ده چې ۴۴ کلن ناوالني د اګست په ۲۰ مه له سایبریا څخه مسکو ته په الوتکه کې روان و چې ناروغ شو او له کبله یې الوتکه په نیمایي لاره کې کېناستو ته اړ ایستل شوه. هغه وړاندې تر دې چې جرمني ته ولېږدول شي، په اومسک کې دوې ورځې تېرې کړې. د راپورونو له مخې، د نوالني روغتیایي حالت نازک دی او اوس د جرمني د برلین په یوه روغتون کې د ببړنۍ خارنې په خونه کې تر تداوۍ لاندې دی.

وروسته له هغې چې د جرمني لومړۍ وزیرې انګیلا مېرکل دا قضیه د مسمومیت په وسیله د قتل قصدي هڅه وبلله، دغه هېواد په ناټو او اروپایي ټولنه کې د خپلو متحدانو له لوري د روسیې پر ضد د ګډ عکس العمل هڅه کوي.

په ورته وخت کې اروپایي ټولنې ویلي چې پر روسیې د احتمالي بندیزونو په تړاو غور کوي. د دې ټولنې د بهرنۍ پالیسۍ مشر جوزیف بوریل په یوه بیان کې پر ناوالني د مرګوني برید هڅه غندلې او له مسکو څخه یې د دې پېښې په تړاو د بشپړو څېړنو غوښتنه کړې ده. بوریل ویلي، اروپایي ټولنه د ګډ نړیوال غبرګون غوښتنه کوي او دا خپل حق ګڼي چې مناسب اقدامات وکړي.

هغه دا هم ویلي چې پر جرم سترګې پټول به ونه زغمل شي، خو روسیې بیا د نوالني په قضیه کې لاس لرل رد کړي دي. د دغه هېواد د ولسمشر ویاند دیمیتري پېسکوف ویلي، په جرمني او اروپایي ټولنه کې له خپلو شریکو هېوادونو غواړي چې د قضاوت په کولو کې له بېړې کار وانه خلي.

په همدې حال کې د امریکا د کانګرېس غړو د ولسمشر ټرمپ له حکومته غوښتي چې د دې مسئلې په تړاو پر روسیې هغه بندیزونه ولګوي چې کانګرېس تصویب کړي دي.

د یادونې ده ناوالني چې د اپوزیسیون مشر او د فساد ضد کمپاینر دی، پخوا په ځلونو نیول شوی او بریدونه پرې شوي دي.

دی سربیا ته د فساد پر ضد د څېړنو او په روان سپټمبر کې په سیمه ییزو ټاکنو کې د اپوزیسیون د مشرانو د ملاتړ لپاره سایبریا ته تللی و.

## د کتــاب خبـرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري

## فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### لومړی فصل

### دڅېړنې کلیات




**۲- جغرافیه په پام کې نه نیول**

اوسمهال د سیمه‌ییزتوب نظریې جغرافیې ته د سیمه‌ییزتوب او سیمه‌ییز کېدو د یوه عنصر په توګه زیاته پاملرنه نه کوي، په عنعنوي ډول لویې وچې او یا هم تړلې جغرافیایي سیمې د یوې ځانګړې سیمې په توګه پېژندل کېدې، له همدې امله د سیمه‌ییزتوب په کلاسیکو نظریاتو کې سیمه تر ډېره حده پورې یو جغرافیایي مفهوم و او د طبیعي جغرافیې له مخې تعریف کېده، په داسې حال کې چې جغرافیه یوازې هېوادونه یا سیمې سره یو ځای کوي. د سیمه‌ییزتوب

په نویو نظریاتو کې جغرافیه د اصلي او ټاکونکي عنصر رول نه تر سره کوي، که څه هم یو شمیر نظریې جغرافیایي نږدیوالی د سیمې د تعریف لپاره لازم ګڼي، خو بیاهم جغرافیه په سیمه‌ییزتوب کې لږ اهمیت او رول لري. د پوسټ مډرنیزم د نظریې له مخې د سیمو ترمنځ د تعامل او اړیکو د کیفیت او همغږۍ اندازه ډېره مهمه ده او سیمه د دې پرځای چې د جغرافیې له مخې تعریف شي په ټولنیز ډول بشپړه شوې پدیده ګڼل کېږي .

**۳- مانا پالنه**

د وخت په تېرېدو سره د سیمه‌ییزتوب په نظریو کې پر غیر مادي عواملو ټینګار کولو زیاتوالی وموند د دې نظریې له مخې د متقابلې مادي وابستګۍ او جغرافیې پرځای ژبې، فرهنګ، قومیت، ایډیالوژي او نورو غیر مادي عواملو ته زیات ارزښت ورکول کېږي. د دې نظریې له مخې سیمې د هویت او پېژندګلوۍ له مخې پېژندل کېږي او په یادو سیمو کې افراد د ارزښتونو او ګټو له مخې ځانونه په یو بل پورې تړلي ګڼي او هغه څه چې هېوادونه او ملتونه سره نږدې کوي هغه فرهنګي، ټولنیز او تاریخي مشترکات دي .

**۴- د نظریو پراختیا**

د نړیوالو شرایطو او حالاتو له بدلېدو سره د سیمه‌ییز کېدو په اړه د نظریاتوپه شمېر کې هم زیاتوالی رامنځ ته شو، په لومړیو وختونو کې د سیمه‌ییزتوب په اړه نظریې یوازې د اقتصادي مسایلو په اړه وې خو د وخت په تېرېدو سره یې د سیاسي، اقتصادي، امنیتي او فرهنګي مسایلو او موضوعاتو تشریح کول هم په بر کې ونیول، خو له دې سره د سیمه ییرتوب او سیمه‌ییز کېدو په اړه د ټولو نظریاتو تمرکز د یو ډول مسایلو په اړه نه وو د بېلګې په توګه د نوې واقع ګرایۍ نظریه په سیاسي او امنیتي عناصرو زیاد تاکید کوي خو په داسې حال کې چې د نیو لیبرالیزم او لیبرال انټر ګورنمنټلیزم غیر مادي عواملو او جوړښتونو ته زیات ارزښت ورکوي .

**۵- ډیموکراتیک پلولاریزم :**

د ډیموکراتیک پلولاریزم نظریه سیمه‌ییزتوب د ذینفع ډلو د ګټو ترلاسه کولو پایله ګڼي او د دې نظریې له مخې سیمه‌ییزتوب په یوې ځانګړې سیمې پورې د تړاو یو ډول احساس دی، چې د سیمې په کچه د مختلفو افرادو ترمنځ د اړیکو او تبادلې په پایله کې رامنځ ته کېږي.

**٦- د نظریاتو یو ځای کېدل**

د سیمه‌ییزتوب په نظریو کې رامنځ ته شوي بدلونونه د نظریاتو د یو ځای کېدو سبب شوي، ځکه ډېر څېړونکي په دې اند دي چې د سیمه‌ییزتوب په پخوانیو کلاسیکو نظریو کې د اصلاحاتو رامنځته کېدل او د سیمه‌ییزتوب نوې نظریې نه شي کولای چې د سیمه‌ییزتوب یا سیمه‌ییزکېدو څو اړخیزه پروسه روښانه او تعریف کړي له همدې امله هڅې شوې چې د سیمه‌ییزتوب په اړه څو نظریې سره یو ځای کړي د سیمه‌ییزتوب د څو نظریو یو ځای کېدل په بېلابېلو نظریو کې د پېچلو عناصرو د وړاندې کولو هڅه کوي او د شته نظریو د روښانه کولو وړتیا لري .

**ج ـ په نظریو کې د رامنځ ته شویو بدلونونو لاملونه**

په نړیوالو اړیکو کې بدلونونه د دې سبب شول چې د سیمه‌ییزتوب په نظریو کې هم بدلونونه رامنځ ته شي د نړیوالو اړیکو په نظریاتو او په نړیوال نظام کې د بدلونونو رامنځته کېدل، د نویو سیمو او نوي سیمه‌ییزتوب رامنځ ته کېدل، نړیوال کېدل او په اروپايي اتحادیې کې بدلون رامنځ ته کېدل د دې سبب شول چې د سیمه‌ییزتوب په نظریو کې هم بدلونونه رامنځ ته شي .

**د ـ سیمه‌ییزې همکارۍ ته اړتیا**

په عمومي توګه په وچه کې ایسار هېوادونه محبور دي، چې نړیوالو مارکیټونو او بندرونو ته د لاسرسي لپاره پر خپلو ګاونډیو هېوادونو تکیه وکړي . د دې لپاره چې په وچه کې ایسار یو هېواد نړیوالو بندرونو ته لاسرسی پیدا کړي، نو باید چې له نورو هېوادونو سره د ترانزیټ او سوداګرۍ په برخه کې تړونونه ولري، په ګمرکاتو کې اسانتیاوې رامنځ ته کړي، تعرفې کمې کړي او خپلو زېربناوو ته پراختیا ورکړي د دې ترڅنګ په وچه کې ایسار هېوادونه باید له خپلو ګاونډیو هېوادونو سره اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي د پیسو مینځلو او د نشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي او د طبیعي زیرمو د مدیریت لپاره سیمه‌ییزه همکاري مهمه ګڼل کېږي .

دوام لري...

# راه سعادت خصوصي پوهنتون

حمیدالله حمیدي




راه سعادت خصوصي پوهنتون په لومړي سر کې د لوړو زده کړو د یوې موسسې په توګه د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ او د خصوصي پوهنتونونو د ریاست په چوکاټ کې په ۱۳۸۹ کال کې په مزارشریف ښار کې د دریو پوهنځیو (انجنیري، حقوقو او سیاسي علومو او اقتصاد) په درلودلو سره پر فعالیت پیل وکړ او عملاً ی٤ې په یادو دریو پوهنځیو کې محصلین جذب کړل. د دغه پوهنتون رییس دوکتور سید حیدر احمدي بلندي وایي، له څه مودې وروسته د لوړو زده کړو دې موسسې ته د ښوونې او روزنې او دغه راز د شرعیاتو پوهنځیو د تاسیس او فعالیت جوازونه هم ورکړل شول او له موسسې څخه یې پوهنتون ته ارتقاع وکړه. دغه خصوصي پوهنتون اوسمهال پنځه پوهنځي او په ۱۳۹۱ کال کې یې په تخار ولایت کې یوه بله څانګه هم پرانیسته، چې دغه څانګه یې هم د یادو پنځو پوهنځیو درلودونکې ده.

په راه سعادت خصوصي پوهنتون کې اوسمهال د پنځه زره په شاوخوا کې محصلین د دغه پوهنتون په پنځو پوهنځیو کې پر زده کړو بوخت دي، چې شپېته سلنه یې ښځینه او پاتې څلوېښت سلنه یې بیا نارینه محصلین دي. دغه پوهنتون تر اوسه پورې د ماسټرۍ کوم پروګرام نه لري، خو د دوکتور احمدي بلندي په خبره، دوه کاله وړاندې یې لوړو زده کړو وزارت او ولسمشرۍ ماڼۍ ته د حقوقو او شرعیاتو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرام پیلولو وړاندیز سپارلی دی، لومړني کارونه یې په لوړو زده کړو وزارت کې تر یوې کچې مخ ته تللي دي، خو له هغه وروسته چې ولسمشر د یوه فرمان له مخې په خصوصي پوهنتونونو کې د نویو پوهنځیو تاسیس او د ماسټرۍ پروګرام پیلول وځنډول، د دوی کارونه هم ور سره پاتې شول. دی وایي، هیله لري چې دغه کار ته بېرته د ولسمشر له لوري اجازه ورکړل شي او دوی به هم د ماسټرۍ پروګرام ور سره پیل کړي. ښاغلی بلندي وایي، د ماسټرۍ پروګرام د پیلولو لپاره یې ټول معیارونه پوره کړي او د دې ظرفیت لري چې په خپلو دوو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروګرام پیل کړي.

له راه سعادت پوهنتون څخه تر اوسه پورې اته دورې محصلین د لېسانس په کچه فارغ شوي او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شوي دي، چې ډېره برخه یې د ښوونې او روزنې له پوهنځي دي، ځکه د ښاغلي احمدي په خبره، دوی په ښوونه او روزنه پوهنځي کې هغه کسان هم نیسي، چې له دې وړاندې یې تر څوارلسم پورې په دارالمعلمینونو کې زده کړې کړې وي. دی وایي، په فارغ شویو محصلینو کې یې تر پنځوس سلنه ډېرې ښځینه محصلینې وې. هغه زیاتوي چې د ټولو فارغ شویو محصلینو شمېر یې شپږ زره ته رسېږي، چې ډېری یې اوس په دولتي او غیر دولتي ادارو کې پر دندو بوخت دي. د لوړو زده کړو وزارت د مقرراتو له مخې، خصوصي پوهنتونونه په کال کې دوه ځله د کانکور ازموینه اخلي، چې دوی په هر ځل د زر تنه په شاوخوا کې نوي محصلین جذبوي.

راه سعادت خصوصي پوهنتون د محصلینو لپاره په بېلابېلو کټه‌ګوریو کې تخفیفونه لري. دوکتور احمدي بلندي وایي چې د پوهنتون اداري د تخفیف لپاره ځانګړی مکانیزم جوړکړی دی، چې له مخې یې محصلین ارزیابي کېږي او هغه محصلین چې اقتصادي ستونزې لري او نه شي کولای د پوهنتون ټاکلی فیس پرېکړي، نو دوی ورته تخفیف ورکوي. دی وایي چې دوی هر کال ځینو محصلینو ته بورسیې ورکوي، چې له مخې یې ځینې محصلین ان په وړیا ډول د دوی په پوهنتون کې زده کړې کوي. د احمدي په خبره، پوهنتون یې تر بل هر خصوصي پوهنتون د فیس او تخفیف په برخه کې له محصلینو سره همکاري کوي، څو یو زیات شمېر محصلین لوړو زده کړو ته لاسرسی پیدا کړي.

د راه سعادت پوهنتون رییس وایي چې راه سعادت موسسه یا بنسټ په افغانستان کې د کتاب رسولو تر ټولو وتلی مرکز دی، چې دوی په مزارشریف او کابل کې د کتاب رسولو لوی مرکزونه لري. د دې تر څنګ یې په پوهنتون کې هم د محصلینو او استادانو د مطالعې د اسانتیا لپاره د دغه پوهنتون په کتابتون کې د لس زره په شاوخوا کې د پنځو پوهنځیو د ۲۲ څانګو اړوند کتابونه ځای پر ځای کړي دي. تر څنګ یې ډیجیټالي کتابتون هم لري، چې د پوهنتون د محصلینو تر څنګ نور هېوادوال هم کولای شي د دوی له دې کتابتون څخه ګټه واخلي. ښاغلی احمدي بلندي وایي، دوی خپله څېړنیز او نور ګټور کتابونه چاپوي او د محصلینو تر څنګ یې د هېوادوالو چوپړ ته وړاندې کوي.

راه سعادت پوهنتون په کور د ننه او بهر دواړو کې له ځینو پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې لري. د دې پوهنتون رییس وایي چې په کور د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره په اړیکه کې دي او په ځانګړې توګه د بلخ پوهنتون، کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون، پکتیا پوهنتون، کندهار پوهنتون، بامیانو پوهنتون او نورو پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې لري، په ګډه کار کوي او تجربې سره شریکوي. د دې تر څنګ له هېواده بهر هم په ایران، ترکیه او ځینو نورو هېوادونو کې له ځینو پوهنتونونو سره هوکړې لري، چې له مخې یې په ډېر کم لګښت محصلین او استادان د لا نورو لوړو زده کړو لپاره دغو پوهنتونونو ته ور استوي.

احمدي وایي، یوازې یو ځل یې د یوې دورې لپاره د لوړو زده کړو وزارت لخوا تر لاسه شوي ډیپلومونه خپلو فارغ شویو محصلینو ته ورکړي او تر هغه وروسته په شمال کې د خصوصي پوهنتونونو لپاره دغه لړۍ دربدلې ده. دی وایي، هغه ډیپلومونه هم ډېر کم وو، چې تر هغه وروسته د لوړو زده کړو وزارت لخوا د دوی د پوهنتون په ګډون، په شمال کې نورو خصوصي پوهنتونونو ته یاد ډیپلومونه نه دي ویشل شوي. نوموړی زیاتوي، کېدای شي د ډېرو خصوصي پوهنتونونو په ډله کې یوازینی پوهنتون وي، چې د علمي معاونیت تر څنګ یې د تحقیق د برخې لپاره هم معاونیت جوړ کړی دی. نوموړی وایي، د نشراتو ځانګړې برخه لري چې تحقیقي مرکز، کتابتون، مجله او نور هغه څه چې نشرېږي، د دغه معاونیت اړوندېږي. احمدي بلندي وایي چې تر اوسه پورې یې ۳۰۰ ټوکه بېلابېل کتابونه چاپ کړي دي او د محصلینو او استادانو په واک کې یې ورکړي دي. د دې تر څنګ د تهران له پوهنتون سره د یوې هوکړې له مخې د دوی محصلین کولای شي په انلاین ډول د دغه پوهنتون کتابتون ته لاسرسی ولري او په علمي برخه کې خپلې ستونزې هوارې کړي.

د راه سعادت پوهنتون رییس وایي، د پوهنتون د پرمختګ لپاره ځانګړی ستراتیژیک پلان لري، چې په علمي برخه کې د پوهنتون پرمختګ، پر خپلو پښو د پوهنتون درېدل او د یوه ځانګړي ځای ځایګي پیدا کول یې اصلي موخه ده.

د دې پوهنتون اداره وایي چې ګڼې ستونزې یې په مخ کې پرتې دي، چې تر ټولو لویه یې امنیتي ستونزه ده. د دې پوهنتون رییس وایي، امنیت یوازینی هغه څه دي، چې د دوی او د محصلینو پرمختګ یې ور سره تړلی دی. دی وایي، که امنیت وي، دوی په ډاډه زړه کار کولای شي او محصلین هم زده کړو ته او پوهنتون ته د تګ لپاره زړه ښه کوي. بله ستونزه یې په اقتصادي برخه کې ده چې په خبره یې تر اوسه پورې د افغان دولت او په ځانګړي ډول د لوړو زده کړو وزارت لخوا د خصوصي پوهنتونونو لپاره په اقتصادي برخه کې کوم ځانګړی میکانیزم نه دی جوړ شوی، چې څه ډول باید خصوصي پوهنتون پرمختګ وکړي او پر ځان بسیا شي. دی وایي، حکومت په ځانګړي ډول مالیې وزارت باید له خصوصي پوهنتونونو سره د مالیې اخیستو په برخه کې مرسته وکړي او څه ناخه یې را کمه کړي. د دې تر څنګ په لوړه بیه د برېښنا پېرل هم د خصوصي پوهنتونونو په مخ کې بله لویه ستونزه ده، چې پر اقتصاد یې ناوړه اغېز کوي چې دغه څه ان د زده کړو پر کیفیت منفي اغېز کولای شي. د خصوصي پوهنتونونو د محصلینو لپاره په دولتي بورسونو کې ونډه نه ورکول او د دې پوهنتونونو استادانو ته د علمي رتبو نه ورکول بله هغه ستونزه ده چې راه سعادت او نورو خصوصي پوهنتونونه ور سره لاس او ګرېوان دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۴۰ |
| € | ۸۹,۶۰ |
| Rp. | ۴۵۶ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۱۰۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# آیا ورزش قبل از خواب بر کیفیت خواب اثرگذار است؟

امین همتی

ورزش‌کردن، در کنار مزیت‌های مختلفش، باعث بهبود کیفیت خواب هم می‌شود؛ چون آرامش‌بخش است و نقش مؤثری در کاهش اضطراب دارد. همچنین به تنظیم ساعت بیولوژیک بدن کمک می‌کند. به تمامی این موارد، افزایش دمای مرکزی بدن هنگام ورزش‌کردن را هم اضافه کنید. وقتی دمای بدن شروع به کاهش کند، به‌مرور احساس خواب‌آلودگی خواهید کرد و خوابیدن برایتان ساده‌تر خواهد شد. عواملی که گفته شد، در کنار یکدیگر باعث بهبود کیفیت خواب می‌شوند. اما آیا ورزش قبل از خواب هم به بهبود کیفیت خواب کمک می‌کند؟ آیا به‌طورکلی انجام این کار توصیه می‌شود یا بهتر است زمان دیگری را برای ورزش‌کردن انتخاب کنیم؟ در ادامه مطلب حاضر، با بررسی نتایج آخرین تحقیق‌ها و مطالعه‌های صورت‌گرفته دراین‌باره، به این سؤال پاسخ خواهیم داد. همراه ما باشید.

**آیا ورزش قبل از خواب بر کیفیت خواب اثرگذار است؟**

سال‌ها است که تمامی اظهارنظرها و مطالعه‌ها در محافل علمی حکایت از این نکته دارد که ورزش قبل از خواب کیفیت خواب را کمتر می‌کند؛ اما نتایج تحقیقاتی که به‌تازگی انجام گرفته است، الزاما صحت این اظهارنظرها را تأیید نمی‌کند.

محققان و دست‌اندرکاران تحقیق‌های یادشده بر این باورند که حتی شب‌هنگام و نزدیک به ساعات خوابیدن هم می‌توان از ورزش‌کردن لذت برد. البته آنها این نکته را هم اضافه کرده‌اند که برای ورزش قبل از خواب باید به زمان دقیق ورزش‌کردن توجه کرد و فقط باید به انجام ورزش‌هایی روی آورد که باعث دشوارشدن به‌خواب‌رفتن یا کاهش کیفیت خواب نمی‌شوند.

اولین آزمایشی که به شما معرفی می‌کنیم، در سال جاری صورت گرفت. در این آزمایش، تأثیر ورزش قبل از خواب بر کیفیت خواب ۱۲ مرد بررسی شد. شرکت‌کنندگان به سه گروه تقسیم شدند:

گروه اول باید ۳۰ دقیقه ورزش هوازی با شدت متوسط انجام می‌دادند؛

گروه دوم باید ۳۰ دقیقه ورزش مقاومتی با شدت متوسط انجام می‌دادند؛

گروه سوم هم هیچ ورزشی نباید انجام می‌دادند.

ورزش دو گروه اول ۹۰ دقیقه قبل از زمان خوابشان تمام می‌شد.

در این آزمایش، شرکت‌کنندگان پس از گذراندن مرحله‌ای که توضیح داده شد، در آزمایشگاه می‌خوابیدند. محققان دمای مرکزی بدن و کیفیت خواب آنها را با تجهیزاتشان می‌سنجیدند. درنتیجه مشخص شد که اجرای ورزش‌هایی با شدت متوسط قبل از خواب، باعث کاهش کیفیت خواب نمی‌شود.

آزمایش دیگری هم در سال جاری دراین‌باره انجام گرفت که نتایج به‌دست‌آمده از آزمایش قبلی را تأیید می‌کند. در این آزمایش ۱۶ مرد و زن، بین ۲ تا ۴ ساعت قبل از زمان خوابیدن، ورزش‌هایی با شدت متوسط انجام دادند. سپس، مثل آزمایش قبلی، محققان تأثیر ورزش قبل از خواب بر کیفیت خواب آنها را سنجیدند. این بار هم در نتیجه مشخص شد که ورزش‌کردن در این ساعات، تأثیری بر کاهش کیفیت خواب ندارد.

دراین‌باره، تحقیق و مطالعه‌ای هم در سال ۲۰۱۹ انجام گرفت. در این تحقیق، نتایج ۲۳ آزمایش درباره ورزش قبل از خواب تجزیه‌وتحلیل شد. در نتیجه، مشخص شد که ورزش‌کردن در ساعات نزدیک به خواب، اگر با شدت متوسط باشد (به عبارت دیگر، اگر شدت فعالیت ورزشی زیاد نباشد) و تا یک ساعت قبل از خواب به پایان برسد، نه‌تنها باعث کاهش کیفیت خواب نخواهد شد، بلکه به بهبود آن هم کمک می‌کند.

بنا به نکته‌ها و جزئیاتی که گفته شد، ورزش قبل از خواب اگر با شدت متوسط باشد و حداکثر تا ۶۰ الی ۹۰ دقیقه قبل از ساعت خواب به پایان برسد، باعث بهبود کیفیت خواب خواهد شد.

**ورزش قبل از خواب و معرفی انواع ورزش مناسب برای این کار**

ورزشی که برای ساعات قبل از خواب انتخاب می‌کنید، نباید شامل فعالیت چندان شدیدی باشد. زمان آن هم مهم است که حداکثر تا ۶۰ دقیقه قبل از خواب به پایان برسد.

در حالت کلی، بهترین ورزشی که برای ساعات قبل از خواب می‌توانید انتخاب کنید، باید شامل فعالیت سطح سبک تا متوسط باشد. به این صورت راحت‌تر به خواب خواهید رفت و کیفیت خوابتان هم بهتر خواهد شد.

زمان ورزش هم به این خاطر اهمیت دارد که به بدن، قبل از خواب، فرصت کافی برای سردشدن بدهید. بهترین حالت این است که ۹۰ دقیقه قبل از خواب ورزش‌تان تمام شده باشد.

در ادامه می‌توانید تعدادی از ورزش‌هایی را ببینید که شامل فعالیت سطح سبک تا متوسط هستند و درنتیجه، برای ساعات قبل از خواب مناسب‌اند:

یوگا؛

تمرین‌های کششی؛

قدم‌زدن و پیاده روی؛

شنا کردن به‌آرامی (شنایی که شامل فعالیت‌های شدید بدنی نباشد)؛

دوچرخه سواری به‌آرامی؛

کار با وزنه‌های سبک تا متوسط.

نوع ورزش قبل از خواب اگر شامل فعالیت شدید بدنی باشد، انتخاب مناسبی نیست. در ساعات نزدیک خواب، این ورزش‌ها را انجام ندهید:

تمرین‌های تناوبی با شدت بالا؛

دویدن؛

شناکردن با فعالیت شدید جسمانی؛

دوچرخه‌سواری با فعالیت شدید جسما نی ؛

کار با وزنه‌های سنگین.

با اجرای ورزش‌های شدید، ضربان قلب بالاتر می‌رود و سیستم عصبی بدن تحریک می‌شود؛ درنتیجه، خوابیدن دشوار خواهد شد. به همین خاطر اجرای ورزش‌های شدید قبل از خواب توصیه نمی‌شود.

**مدت‌زمان مناسب برای ورزش قبل از خواب**

برای آنکه ورزش‌کردن باعث بهبود کیفیت خواب شود، باید در طول روز یا نزدیک به ساعت‌های خواب، حدود ۳۰دقیقه ورزش هوازی با شدت متوسط انجام دهید.

اگر می‌خواهید از مزایای بلندمدت ورزش‌کردن بر بهبود کیفیت خواب بهره‌مند شوید، باید طبق برنامه‌ای منظم ورزش کنید. مدت‌زمان توصیه‌شده برای این برنامه منظم ۱۵۰ دقیقه در هفته است (ورزش هوازی با شدت متوسط). برای پایبندی به این برنامه ورزشی می‌توانید ۵ روز در هفته، روزانه ۳۰ دقیقه ورزش کنید. البته اگر ۳۰ دقیقه ورزش‌کردن برایتان زیاد است، می‌توانید مدت‌زمان آن را به ۱۵ دقیقه کاهش دهید.

اگر می‌خواهید باز هم ورزش‌کردن برایتان بهتر و مفیدتر باشد، می‌توانید ۷۵ دقیقه در هفته ورزش همراه با فعالیت جسمانی شدید انجام دهید.

البته مراقب باشید! انواع شدیدتر فعالیت‌های ورزشی انتخاب مناسبی برای ساعات نزدیک خواب نیستند.

اگر واقعاً به فعالیت ورزشی‌تان علاقه داشته باشید، انجام هرروزه آن برایتان ساده‌تر خواهد شد. برای آنکه به برنامه ورزشی پایبند بمانید، به‌دنبال ورزش‌های موردعلاقه‌تان باشید.

**برای بهبود کیفیت خواب چه کار دیگری می‌توان انجام داد؟**

علاوه بر داشتن فعالیت ورزشی مشخص در طول روز و هفته، کارهای دیگری هم هستند که باعث بهبود کیفیت خواب می‌شوند. در این بخش، تعدادی از کارآمدترین کارهایی را معرفی می‌کنیم که می‌توان برای بهبود کیفیت خواب انجام داد.

**داشتن برنامه زمانی مشخص و ثابت برای ساعات خواب و بیداری**

هر شب، رأس ساعت مشخصی به خواب بروید و هر روز، رأس ساعت معینی از خواب بیدار شوید. حتی در روزهای آخر هفته و تعطیل هم به این برنامه زمانی پایبند باشید. این کار باعث تنظیم ساعت بدن و بهبود کیفیت خواب می‌شود.

**پرهیز از استفاده از دستگاه‌های الکترونیکی قبل از خواب**

تمامی دستگاه‌های الکترونیکی اعم از تلویزیون، لپ‌تاپ و موبایل را حداقل ۳۰ دقیقه قبل از خواب خاموش کنید. نور این دستگاه‌ها باعث تحریک مغز می‌شود و خوابیدن را برایتان دشوارتر خواهد کرد.

داشتن برنامه‌ای همیشگی برای کسب آرامش و کاهش استرس قبل از خواب برای کاهش استرس و کسب آرامش می‌توانید دوش آب گرم بگیرید یا به موسیقی آرامش‌بخش گوش دهید. اجرای حرکات یوگا و حرکت‌های کششی هم برای این منظور کارآمد و مفید است.

# چارواکي: له دوو اونیو وروسته لاهم په پروان کې د سیلابونو له امله د مړو پلټنې دوام لري

افغان چارواکي وايي چې په پروان ولایت کې د سیلابونو له راوتلو دوې اونۍ وروسته لا هم د مړو د موندلو عملیات دوام لري.

پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت ویاند احمد تمیم عظیمي ویلي چې په پروان کې د سیلابونو د راوتلو په سیمه کې پلټونکې عملیاتي ډلې حضور لري او د جسدونو د را ایستلو لړۍ لاهم روانه ده.

عظیمي زیاته کړې چې په پروان کې د سیلابونو له امله د مړو شویو کسانو شمېر ۱۶۰ ته پورته شوی او څه باندې ۱۳۰ تنه پکې ټپیان شوي دي.

هغه ویلي: «له دې سره هممهال د پاک کارۍ چارې هم دوام لري... هغه راپورونه مو چې له خلکو څخه ترلاسه کړي، لا هم تر پنځو مړي تر خاورو لاندې دي چې د موندلو لپاره یې هڅې دوام لري».



طبیعي پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د ویاند په خبره، په دغو عملیاتو کې څه باندې ۱۰۰ ماشینونه چې پکې اسکواټور او لوډر هم شامل دي، په پاک کارۍ او د جسدونو په موندلو بوخت دي.

د پروان د سیمه‌ییزو چارواکو د معلوماتو په اساس، په دغه ولایت کې د سیلابونو له امله شاوخوا ۱۰۰۰ کورونه او سلګونه هټۍ ویجاړې شوې دي.

په ورته وخت کې طبیعي پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت وايي چې د هېواد په ۱۵ ولایتونو کې د سیلابونو له امله د ښځو او ماشومانو په ګډون ۲۱۰ تنه وژل شوي او لسګونه نور ټپیان شوي دي.

بلخوا د خوړو نړیوال سازمان په پروان ،کاپیسا او میدان وردګو ولایتونو کې پر ۱۷۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو د مرستو د وېش خبر ورکوي. د دغه سازمان ویاند وحیدالله اماني ازادي راډیو ته ویلي، دغه مرستې په ۱۱۰۰۰ کسانو وېشل شوي او دا لړۍ به روانه وي.

په افغانستان کې د خوړو نړیوال سازمان وايي، تراوسه په پروان، کاپیسا، او میدان وردګو ولایتونو کې پر څه باندې ۱۱۰۰۰ کسانو خوراکي توکي وېشل شوي دي.

اماني زیاته کړې چې دغه مرستې د یوې سروې له مخې، له افغان حکومت سره په همغږۍ پرمستحقو کورنیو ویشل شوي دي. د هغه په خبره: «په ټوله کې څه باندې ۱۷۰۰ کورنیو چې د غړیو شمېر له ۱۱۰۰۰نه اوړي، دغه مرستې ترلاسه کړي، مرستې او سروې روانې دي، دغه مرستې د امریکا د نړیوالې پراختیایي ادارې، جاپان، سویزرلنډ او د ملګرو ملتو د بشري مرستو په همکارۍ وېشل شوي دي.»

اماني زیاته کړې، دغه مرستې چې څلور بورۍ اوړه، ۲۰ لېتره غوړي، ۲۵ کیلو دال نخود، ایودین لرونکې مالګه، بېسکوېټ او د امېندوارو ښځو لپاره ځانګړې درمل پکې شامل دي، په اړو کورنیو وېشل شوي دي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۱٦مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر شپږمه | ۵۹۰یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۹ | ۳۲ | ۳۵ | ۳۰ | ۳٦ | ۳۰ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۲ | لمر ختل ۰۵:۲۰ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیګر ۰۳:۳۷ | ماښام ۰٦:۳۲ | ماخوستن ۰۸:۰۱

## نړۍ



د ناټو او روسیې د کړکېچ په دوام؛

# ستولتنبرګ: ډېرې جدي پوښتنې شته چې روسیه یې باید په اړه ځواب ووايي

۳

## ملګري ملتونه: په نړۍ کې له ۵۰ میلیونو ډېر انسانان له سختې لوږې سره مخ دي



ملګرو ملتونو خبرداری ورکړی چې په کانګو، یمن، نایجیریا او جنوبي سوډان کې میلیونونه انسانان له سختې لوږې سره مخ دي. د دغه سازمان د بشري چارو مرستیال مارک لوکاک ویلي چې په یادو هېوادونو کې نا امنیو، جګړو او کرونا ویروس د میلیونو انسانانو ژوند له جدي ګواښ سره مخ کړی چې ډېری برخه یې ښځې او ماشومان دي.

نوموړي دغه راز ویلي چې د یادو هېوادونو په ډېریو برخو کې بشري چارې له خنډونو سره مخ دي او ښایي دوی ونه شي کولی چې اړمنو کسانو ته په وخت مرستې ورسوي. د هغه په خبره، که نړیوالې مرستندویې ادارې په دې برخه کې ژر تر ژره اقدام ونه کړي، ښایي بشري ناورین رامنځته شي. لوکاک د ملګرو ملتونو له امنیت شورا غوښتي، که په دغو څلورو هېوادونو کې د بشري چارو پر وړاندې پراته خنډونه له منځه یوسي، دوی چمتو دي چې لوږې ځپلو سیمو ته خپلې بېړنۍ مرستې ولېږي.

هغه زیاته کړې، چې اوسمهال په یادو څلورو هېوادونو کې له ۵۰ میلیونو ډېر کسان له سختې لوږې سره مخ دي چې نړیواله ټولنه باید په دې اړه جدي اقدام وکړي. ملګرو ملتونو همدارنګه ویلي چې په سومالیا، بورکینافاسو او افغانستان کې هم د لوږې کچه مخ پر ډېرېدو ده.

## د اټومي انرژۍ نړیواله اداره: ایران له ټاکل شوې اندازې ۱۰ برابره ډېر یورانیم غني کړي دي

د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې په خپل تازه راپور کې ویلي، چې ایران له ټاکل شوې اندازې څخه ۱۰ برابره ډېر یورانیم غني کړي دي.

یادې ادارې زیاته کړې، چې دغه دولت اقدامات په ښکاره ډول له اټومي هوکړې سرغړونه ده. د یادې ادارې څارونکي چې د ایران د اټومي بټیو لیدو ته ورغلي وو، وايي، د دوی موندلې په ډاګه کوي چې یاد هېواد له ټاکل شوې کچې څخه لس برابره ډېر یورانیم غني کړي دي. په راپور کې دغه راز راغلي چې د ایران د غني شویو یورانیمو زېرمه ۲۱۰۵ کیلوګرامو ته رسېږي، چې په خبره یې، د هوکړې له مخې تر ورکړل شوې اندازې ۳۰۰ کیلوګرامه لوړه ده. د اټومي انرژۍ نړیواله اداره زیاتوي، چې روانه میاشت به په ایران کې له دویمي اټومي بټۍ څخه هم لیدنه وکړي. بل لورته بیا ایران ټینګارکوي، چې اټومي پروګرام یې د سوله ییزو موخو لپاره دی.

د اټومي انرژۍ د نړیوالې ادارې څارونکي داسې مهال د ایران د اټومي فعالیتونو خبره کوي چې په دې وروستیو کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا د امریکا هغه پرېکړه لیک په غوڅ اکثریت رد کړ چې له مخې یې، په ایران باندې د لګېدلو بندیزونو د غځېدو غوښتنه پکې شوې وه.

## دیدبان شفافیت: کرکت بورد افغانستان با مشکل جدی مدیریتی مواجه است





دیدبان شفافیت افغانستان در گزارش خود مدیریت این بورد را «گنگ» خوانده و نسبت به عدم دسترسی به اطلاعات و فساد در آن اظهار نگرانی کرده است.

این اداره می‌گوید که کرکت بورد افغانستان با مشکل جدی مدیریتی مواجه است. دیدبان شفافیت دیروز گزارش تحقیقی دربارۀ ارزیابی مدیریتی کرکت بورد افغانستان به نشر رساند. این گزارش را مشتاق رحیم، کارشناس کرکت این سازمان تهیه کرده است.

این گزارش ۳۱ صفحه‌ای هشت بخش کرکت بورد افغانستان را بررسی کرده است. آقای رحیم روز شنبه در نشست خبری‌ای در کابل گفت که کرکت بورد افغانستان با مشکل اداری مواجه است و پاسخگویی ندارد.


آقای رحیم می‌گوید در کنار دیگر مشکلات از شش سال به این سو گفته شده که در گوشه‌گوشۀ افغانستان میدان بازی ساخته می‌شود، اما تا به حال کارهای بنیادی آن صورت نگرفته است.

در این گزارش استخدام رهبری، مبارزه با فساد، عدم شریک‌سازی اطلاعات، روش انتخاب بازیکنان، مدیریت کارهای انضباطی، کرکت زنان، مدیریت کرکت و عملکرد هیئت رهبری بررسی شده است.

در همین حال فرید هوتک، سخنگوی کرکت بورد افغانستان در پاسخ به این گزارش گفته است: «کرکت بورد افغانستان از طریق رسانه‌ها خبر شد که چنین تحقیقی انجام شده است. ما تلاش می‌کنیم که این تحقیق را به دست آوریم و ببینیم که این اطلاعات را چگونه به دست آورده‌اند. پس از آن ما موضع‌مان را از طریق رسانه‌ها با مردم شریک می‌سازیم.»

## ژوند

## د سامسُنګ نوی پیاوړې بېټرۍ لرونکی موبایل






سامسُنګ کمپنۍ غواړي نږدې راتلونکي کې خپل تر ټولو پیاوړې بېټرۍ لرونکی ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړي. دغه ځیرک موبایل ګلکسي اېم۵۱ نومول شوی دی. که څه هم د دغه ځیرک موبایل ځینې ځانګړنې په مارچ کې افشا شوې وې، خو دا لومړی ځل دی چې د دغه ځیرک موبایل نوم هم په ډاګه کېږي. نویو خپرو شویو معلوماتو کې ادعا شوې چې ګلکسي اېم۵۱ به د کوالکوم کمپنۍ سنپ ډراګن ۷۳۰ ډوله پروسېسر او ۷۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ سره خرڅلاو ته وړاندې شي. دا د ځیرکو موبایلونو مشهورې کمپنۍ له لوري د ځیرکو موبایلونو تر ټولو لوړه وړتیا لرونکې بېټرۍ ده. افشا شویو معلوماتو کې همدا راز ادعا شوې چې ګلکسي اېم۵۱ به شاتنۍ برخه کې څلور کامرې ولري چې ٦۴ مېګاپکسله وړتیا لرونکې اصلي، ۱۲ مېګاپکسله وړتیا لرونکې الټرا وایډ انګل او دوه نورې کامرې په کې شاملې وي. د دغه ځیرک موبایل د بیې په اړه څه نه دي ویل شوي، خو کېدای شي د سپټمبر په میاشت کې معرفي او خرڅلاو ته وړاندې شي.

## له کوره کار؛ د ټولنیزو شبکو مدیریت پر غاړه واخلئ

په ډېر احتمال سره اوس به هم په کور کې ډېر وخت په ټولنیزو شبکو کې تېروی، نو چې هلته یاست، ولې بیا له دې تخصص څخه ګټه نه پورته کوی او پیسې نه ګټۍ؟ ډېری شرکتونه غواړي په ټولنیزو شبکو کې پراخ حضور ولري او د دغه کار لپاره خلکو ته اړتیا لري. د دغه کار لپاره ښه خبره دا ده چې له ځینو پلټفارمونو لکه (هوت سوت) څخه کار واخلئ. دا پلټفارم اجازه درکوي چې پر یوه وخت څو اکونټونه مدیریت کړی او د پوسټونو خپرېدو لپاره مهالوېش پکې جوړ کړی. زما یو ملګری د خپل شخصي کار او د ماسټرۍ د درسونو تر څنګ د شپې لخوا څو ساعته د ښکلا او جلدي برخې



د یوه کلینیک ټولنیزې پاڼې منبج کوي. نوي پوسټونه کوي او د مشتریانو کومنټونو او مسېجونو ته ځوابونه وايي. دی له دې لارې هم د خپلې ماسټرۍ فیس برابروي او هم له خپلې کورنۍ سره په مالي برخه کې مرسته کوي. تاسو هم خپلې وړتیا ته په کتو سره له رسمي کار وروسته داسې یوه دنده پیدا کړئ، چې له خپل کور څخه ورته رسیده‌ګي وکولی شی.

د انجوګانو لپاره جاري حساب

عزیزي بانک د انجوګانو لپاره ځانګړی محصول طراحي کړی. د انجوګانو لپاره د جاري حساب د طراحي موخه، د انجوګانو د معاملاتو لپاره جلا سېستم، غوره او ارزښتمنې چوپړتیاوې او یاد سکتور سره د اړیکو ښه مدیریت ده. د انجوګانو حساب په څلور اسعارو: افغانیو/ډالرو/یورو/انګلیسي پونډو پرانیستل کېدای شي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره له 1515/0093701801515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ او یاهم د عزیزي بانک له نږدې څانګې څخه لیدنه وکړئ

عزیزي بانک
Azizi Bank
MAIN BRANCH
Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN
AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af

www.azizibank.af
1515

عزیزي بانک
Azizi Bank